مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی

۲۰۲۶/۰۸/۲۴

# زيارت

مور ته مي خداى (ج) خبر چا ويلي ؤ، چي زوى دي د لمر لوېدو پر مهال د لوړبابا زيارت ته ورولہ ګوندي خداى وي، چي روغ سي.

زما په ګومان همدا خبره وه،چي يوه ورځ مي مور د لوړ بابا زيارت ته د تګ راته وويل، که څه هم زمابدن ناروغيو دومره کمزوره کړي وه چي دولاړيدو توان مي سم نه درلود، خودمور کۍ خبره مي چيري ماتولاى سواى! ددې په وينا مي ناروغه وجود له بسترې راپورته او  پر ديوال مي لاس تکيه کړ، له ولاړيدو سره سم مي پر سترګو توره شپه او په غوږونو کي مي ازانګې سوې سر راباندي وڅرخېدى،نژدې ؤچي بيرته دمځکي خواته ولويږم خودګراني مور د (بسم الله، بسم الله ....) ږغونو يوډول بيداري راکړه، لکه کوچنی ماشوم په غيږ کي يي ونيولم ماهم ددې دزړه لپاره خپل ناروغ وجود راټول او ديوال ته مي تکيه وکړه مور مي ژر  په يو لوښي کي يخي اوبه راوړې زمامخ، لاسونه اوپښې په رالانده کړل، زړه يوڅه ورسره را بيدار سو.

ترلاس يي ونيولم کرار کرار زما په قدمونو راسره رهي سوه، خو کله چي به پر لار دستړيا څخه يو ځاى کښېناستم، نودابه ترهغو راته ولاړه وه،چي ښه به هوسا سوم بيابه يي ترلاس نيولی روان کړم هرګړی به يې پوښتنه راڅخه کوله: (زويه ! ډېرپه عذاب خوبه نه يي؟)

زه که په تکليف هم وم،خو بيا ددې دزړه لپاره به مي پرخپلو وچو شونډانو يو ډول مسکا راوسته اوورته و به مي ويل:(يه ! موري اوس شکر دی ښه يم.)

په دې لږ مسکا به مي پرچادولو شونډو وينه راخرګنده سوه مور به ژر په دې خبره : ( دا سپېره شونډان او ژړ مخ دي مور صدقه سي .) د خپل تور الواني پړوني په څوکه زما مخ او شونډان راپاک کړل.

که څه هم دلوړ بابا زيارت زموږ دکلي څخه ډېر ليري نه ؤ ، خوپرما باندي دا لار ډېره اوږده سوه، دمازيګر لمرلا نه ؤلويدلی،چي د لوړ بابا زيارت ته ورنيژدې سولو.

زيارت دلوړ غره څخه لږ رالاندي ديوې لوړي غونډۍ په سر له ډېرو زمانو راهيسي جوړ سوی دی، دغره په لمن کي د اوبو چينه، جګ چنارونه او تر څنګ يې د کوچيانو کېږديو داټوله سيمه خوراشاعرانه کړې ده.

پر چينه باندي هر مازيګرکوچۍ پيغلاني په ټوکو ټکالو او سندريزو زمزو منګي ډکوي.
زه مور ترلاس نيولی روان کړی يم چي ناڅاپه له يادي چيني سره يوه داسي چټه پيغله، چي جګه ونه يې لکه چنار، د باز په څېر خماري سترګي، دڅوارلسم سپوږمۍ غوندي روښان مخ،تر مشکي اوربل لاندي شينکي خال او د چينې په اوبو لمدو جامو يې د انسان زړه له ګوګله راکښی په مخه راغله،خو زما په ليدو يې د مخ پټولو ټولي هڅي ناکامي سوې، نو ځکه يې د زرکي قدمونه نور هم چټک کړل.

زړه مي يوډول دمستي ځوانۍ بوی حس کړ، ناروغ بدن مي دجوړوالي خواته مايل او په پښو کي مي د ګړندي تګ ځواک پيدا سو ،نه يم پوهيدلی چي څنګه دلوړ بابا زيارت ته وختم!

مور مي د قبر سر ته پرته مالګه د(خورده) په نامه راباندي وخوړه، دقبر يوڅو غټي ، غټي ډبري يي په (بسم الله الرحمن الرحيم ) سره راباندي وموږلې ،زما د پټو/ څادر څخه يي يوه اوږده ريښکۍ وشکوله د لوړبابا د زيارت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سرته پر ولاړه درخته يي دنورو رينښکيو سره يو ځای تينګه وتړله ، يوه اندازه خورده(مالګه) يي هم د پوړني په پلو پوري غوټه او دواړه د کور پر خوا را رهي سولو.

زه بياهم نه يم پوهيدلی چي له دې لوړي غونډۍ څخه څنګه راکښته سوم! ځکه ټول فکر مي په هغه چاکي بند ؤ، چي په يوځل ليدلويي زما زړه له ځانه سره کيړدی ته وړی ؤ.

زه په لار يوي اوبلي خواته په ورک  زړه پسي ګورم، ناڅاپه مي د يوې کېږدی څنګ ته هغه ما لېدلي  پيغله نغري ته ناسته په سترګه سوه، خدای خبر چي ماخستن ته يي څه پخول؟ زړه مي غوښت چي همدا اوس ورسره مېلمه سم، خو ملک د پښتو دی!

د ماښام لمونځونه قضاء وو،چي کورته را ورسيدلو، ما د ذهني ستړيا له لاسه د ماخستن د ډوډۍ خوړولو پرځای د خوب غيږي ته فناء يوړه ،مګر خوب چيري ؤ!

دشپي ډېره برخه مي سپوږمۍ ته په کتو تېره کړه، په همدغه شپه مور څوځله ږغ راباندي وکړ :(زويه! اوس څنګه يي؟)

ما د جواب ورکولو پر ځای لا نور ځان پر خوب واچاوی مور مي خوشحاله سوه:(ياالله !ستاډېرشکر دی چي زما زړګی نن آرام دی.)

سهاروختي زه خپله له خوبه راکښينستم مور، چي وليدم ، د مهربانۍ په ځانګړي انداز يي راته وويل : ( د سترګو توره! پام کوه،چي غوځارنه سې!)

– يه ! موري نه غوځارېږم ، نن مي شکر دی صورت يوڅه جوړ  اودلوړ بابا زيارت ښه تاثير راباندي کړی دی، له دې سره سم مي مور سر سرتور کړ خدای (ج) ته په شکر کښنوسوه.

دغسي يي بيا څو مازديګره هم دلوړبابا زيارت ته لاس نيولی بوتلم اوپه هرو وار ليدلو به يي لکه ګل غوړيدم.

کله، چي دکلي نورو سپين سرانو ښځو زما د روغتيا په اړه زما له مور څخه پوښتني کولي، نو  دې به دلوړ بابا دزيارت او کرامت خبره ورته  تکراروله، خودا په دې نه وه خبره،چي زه ديو بل لوړ او جګ انسان په زيارت او ليدلو روغ سوی يم.

۲۰۰۱ / ۱۱/ ۱۵ سهيلي پښتونخوا کوټه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ